UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان

# مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

**کابل، د وری د میاشتی لومړی نیټه، کال ۱۳۹۱ –** ملګري ملتونو د نوی کال د رارسیدلو په مناسبت ټولو افغانانو ته مبارکی وايي.

یان کوبیش د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی په افغانستان کی وایی: نوروز په افغانستان او سیمه کی یو له هغه دودیزو مراسمو څخه دی چی خورا ډیر مینه وال لري، دا ورځ د دی فرصت برابروی چی د خپلو ملګرو، خپلوانو سره یو ځای شوو او خپل آرزوګانی په حقیقت بدل او خپلو نویو موخو ته ورسیږو.

څرنګه چی ۱۳۹۱ کال او پسرلی پیل کیږي، هیله لرو چی دا کال موږ په هغه هڅو کی چی د یو سوکاله، سوله ایز او با ثباته افغانستان په لوری د کار لپاره سره یو ځای کړي.

راځی چی په دي لمانځلو کی هغه افغانان په یاد کی وساتو چی ځوریږي، د خطر سره مخامخ کیدای شي، او هغه افغانان چی زموږ مرستو او ملاتړ ته اړتیا لري.

د ملګرو ملتونو د مرستو پلاوی په افغانستان کی (یوناما) د خپل نوی ماموریت له لاری چی ژر به د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا وغځول شي د افغانستان د دولت او خلکو سره او د خپل نړیوال همکارانو سره دی ته ژمن دی چی د افغانانو د یوې ښې راتلونکې لپاره کار وکړي.

نوی کال مو مبارک شه!

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**